# د خوشحال پهٔ کلام کښې د متلونو ونډه

# PROVERBS IN THE POETRY OF KHUSHAL KHAN KHATTAK

ډاکټر علي خېل درياب

**Abstract**: Although assorted aspects of the poetry of Khushal Khan Khattak has been explored yet it needs to be elucidated because the diversity of the Khushal Khan Khattak writings necessitate to investigate his thoughts, philosophy and imagination in his poetry.

Proverbs play pivotal role in the routine conversion and writings of a language and literature.

The author of this paper attempted to collect the proverbs used in the poetry of Khushal Khan Khattak.

د نړۍ هره ژبه او ادبيات پهٔ خپله لمن کښې د متلونو پرېوانه پنګه لري. دغه متلونه د متعلقه ژبو د وينا والو د ژوند د تجربو او مشاهدو مشترکه نچوړ وي. چې مواد يې د ا افاقي صداقت د چينو نه رازېږي او پهٔ اثر يې د انساني فطرت د نه بدلېدونکو برخو دشتې خروبيږي چې انداز يې چرته ظريفانه چرته طنزيه او چرته د دې دواړو پهٔ امتزاج اړه لري.

د متل پهٔ هکله تر دې دمه د پوهانو مختلفې رايې او ويناوې مخې ته راغلي دي.ډېر تعريفونه يې وضع کړي شوي وي. خو پوهان لا پهٔ يو داسي تعريف متفق شوي نه دي. چې ورته جامع يا بشپړ تعريف وئيلې شي. او د دې لويه وجه د متل د سينې وسعت او پراخي ده. ځکه چې متل دومره ګڼ اړخيز صفات او خوبۍ لري چې " ګل د کدو ګل دی چې يو ترې شو کوم لاندي تر بل دی" پهٔ مصداق يې احاطه کول ګرانه ده. دغه صفات او خوبۍ دومره بلا دي چې د ارسطو نه راواخله تر دې وخته پوري د متل ديو جامع تعريف کولو هڅې کولې شي. خو د متل د بې شمېره خصوصياتو له وجې د ژبپوهانو زړونو پهٔ يو تعريف د اتفاق اوبهٔ لا څښلې نهٔ دي. او دغه هڅې او کوششونه اوس هم د نيمګړو ښکار دي.

انسائیکلو پېډیا امریکانا د متل په هکله لیکي:" متل په اصطلاح کښې هغه مختصرې، موثرې، مشهورې،جامع، ساده او بې تکلفه وینا یا جملې ته وئیلې شي چې الفاظ یې موزون، ترتیب یې مناسب، مفهوم یې واضح او معنیٰ یې لوړه وي. دغه رنګه هغه لنډه او بشپړه مقوله هم متل بللی شي چې یوه عالمګیر ریښتونولي په یوه موثر انداز کښې وړاندې کوي." (۱)

سید عظیم شاه خیال بخاري د متل په ترڅ کښې خپل نظر داسې بیانوي.

" متل په اصل کښې داسې خبره، جمله یا فقره وي چې د کومې قصې، د کومې واقعې یا د کومې اهمې پېښې په هکله د چا تجربه کار مشر یا پوهان وغیره د خولې نه بې ساخته ووځي او دا جمله، خبره یا فقره داسې موقع سره سمه معنی وره او سودمنه وي چې بیا یې نور خلګ هم په دغسې موقعو استعمالوي او بیا چې ورو ورو په اولس کښې ډېره عامه شي نو متل اوګرځي" (۲)

هم دغه رنګ ستر څېړنکار ډاکټر راج ولي شاه خټك لیکي: " متلونه د یوې ژبې د اولسي ادب یوه ارزښتناکه اثاثه وي. د اولس پوهې، روایاتو، نفسیاتو او د حس ظرافت (Sense of homour) د معیار یو عکس هم په متل کښې ښکاري. په پښتو ژبه کښې بې شمېره متلونه دي. په پښتني اولس کښې پوه او هوښیار سړی هغه بلل کېږي څوك چې څومره زیات په متلونو پوهیږي یا څومره زیات متلونه ورته یاد وي. د پښتو متل د دانش یو عجیبه انداز لري. په څرګنده یو ساده خبره چې د متل حېثیت اختیار کړي نو د دانائي یو علامت و ګرځي. متل په فولکور کښې د ټپې په شان یو داسې اولسي صنف دی چې ویونکی او جوړونکی یې معلوم نه وي. یوه واقعه، یوه قصه، پېښه، ماحول په یو مخصوص حالت کښې په غیر ارادي توګه متل و زېږوي." (۳)

پروفیسر داور خان داود په دغه لړ کښې څه په دا ډول رایې لري:

" متل یو داسې مشهورې فقرې یا جملې ته وائي چې په کښې څه خاص حقیقت، صداقت یا نصیحت بیان شوې وي. دا دیو ملك یا قام د مخصوصو حالاتو او د دغې ملك یا قام د استوګنو د تجربو او مشاهدو په رڼا کښې جوړېږي او د افاقیت او افادیت په وجه دومره شهرت او ناموري اوموميي چې د یو ملك په مختلفو

سیمو او د یوقام پهٔ ګڼو ټپو کښې خور شي او د دغه قام او ملك وګړي چې هم یوه ژبه وائي پهٔ دعویٰ او تصدیق سره د دې د خالق پهٔ هکله هیڅ نشي وئیلې." (۴)

پهٔ هر حال د دې بره ذکر شوو رایو او خیالاتو پهٔ رڼا کښې موږ وئیلې شو چې متل د یو قام د حالاتو، واقعاتو، عاداتو، خویونو او افعالو یوه داسې هینداره وي چې د ماضي پهٔ بنیاد پهٔ کښې د دغه قام اولسي میراث پهٔ نظر راځي او د حال پهٔ اساس پهٔ کښې د هغوی پوهه لکه د فطري پیداوار راو څاریږي. څه چې پهٔ خاص او مناسبو موقعو را زرغونیږي او وجود بیا مومي. هم دغه موقعې وي چې کله هم لوستي یا نالوستي مشران ترې تېر شوي دي. نو د خولې نه یې څه بې ساخته، موزونې جملې وتلې دي چې د کوټلو معنو او مطالبو ژور سمندرونه لري. هم دغه سمندرونه دي چې د "متل" پهٔ کوزه کښې رابند کړې شوي دي او د ژوند سره د مختلفو شعبو خلګ یې پهٔ خپلو ویناګانو کښې د فصاحت، بلاغت او وضاحت پیدا کولو نه علاوه د حسن بیان پهٔ غرض هم استعمالوي.

خوشحال بابا هم پهٔ خپل کلام کښې د معنوي ښائست او ښکلا رابرسېره کولو پهٔ اساس د متل استعمال کړئ دی. د "متل" دغه پکارونه دومره برمحل دي. د خوشحال بابا پهٔکلام کښې یې د زور دومره عنصر راپیدا کړئ دی چې یوازې پهٔ هغې ډېر څه لیکلی شي. دلته د بابا د کلام پهٔ رڼا کښې هغه متلونه رامخ ته کولې شي کوم چې خوشحال بابا پهٔ خپلو شعرونو کښې لکه د غمو پېئلې دي او د پښتو ناوې د هار ښائست یې پرې سیوا کړئ دی.

متل: د ښو غوښو نه ښه ښوروا کښېږي.

دا خبره و هر چاوته ښکاره ده
چې د ښو غوښو نه ښه کښېږي ښوروا (۵)

متل: چې اوښان ساتې نو دروازې دنګې ساته.
یا
چې هاتیان لرې نو خونې لوی لره.

چې هاتيان ساتې پيدا کا لويه خونه
چې هاتيان پرې ننوزي هسې ور (۶)

متل:اول وخوره د ځان غوښې بيا و خوره د ښکار غوښې.

چې مزرى خپلې منګلې نه کا کښل
هونبره نه وي ځربې ښې وته تل (۷)

متل:توره شړې پۀ وينځلو نه سپينيږي.

چې وو دلې وي پۀ ذات توره شړې
سپينول يې وهر چاوته دي شاق (۸)

متل: د زړۀ نه زړۀ ته لار وي.

د يار مهر تر ما راغلى زما مهر تر ياره
رشتيا ده دا خبره د زړۀ ده لار د زړۀ (۹)

متل: هر چا تۀ خپل وطن کشمير دى.

د خوشحال د زړه خوښې نه شي بې سرايه
خپل وطن يې پۀ هر چا باندې کشمير کړ(۱۰)

متل: ملك پۀ شمشېر اخله او ښځه پۀ کښېر اخله.
ضرب المثل دى د هوښيارانو
ملك ته شمشير راوړه ښځې ته کښېر راوړه(۱۱)

متل: لېونى سپى خپل کنډك ماتوي.

بدعمل لېونى سپى دى
چې حملې پۀ خپل کنډك کا(۱۲)

متل: چغر ځان تۀ نۀ ګوري او ګنجي تۀ پښغور کوي.

مګر نۀ ګوري و ځان تۀ
چې احول پښغور د پك کا(۱۳)

متل: پۀ بارداره ونه تل کاڼي وريږي.

پۀ بارداره ونه تل وريږي کاڼي
ورته ګوره چې بارداره ونه څۀ کا(۱۴)

متل:اوبه ځي ځي پۀ کمزوري ځای ورځي.

تل اوبه پۀ نري تار باندې ماتيږي
عقل و هوش يې نخستين راڅخه يو وړ(۱۵)

متل:توکلي لاړې خولې له بيرته نۀ راځي.

که يې بيا له مزکې اخلي سود يې کوم دی
چې له خولې پۀ مزکه پرېوزي د چا لاړې.(۱۶)

متل:بل ته کوهی مه کنه خپله به کښې پريوځې.

هم هغه پۀ کښې پريوزي
چې کنې چاته څاهونه(۱۷)

متل: پيشو خو به د وړو جوړه کړې خو ميو به پۀ کښې ثوك اچوي.

د وړو پيشو خو سازه کړی ميئو ثوك کا
هوښيارانو ته ښکاره دی دا مثال(۱۸)

متل: خټکی د خټکينه خوند يا رنګ اخلي.

ختکی له ختکینه خوند اخلي
همسایه له ګاونډي نه پند اخلي (۱۹)

ختکی له ختکنېښنه رنګ اخلي
عالمان شېخان يې لا دي نا پۀ کار (۲۰)

متل: عشق او مشك نۀ پټېږي.

نۀ د مشکو پټېدنه نۀ د عشق شته
پۀ ازل يې نۀ دي دا پر دې پوښلي (۲۱)

مینه پۀ پټه د هیچا نۀ شي
خپل بو يې د مشکو پۀ ځان چغل دی (۲۲)

نۀ بۀ بوی د مښکو پټ شي پۀ نافه کښې
نۀ بۀ پاتې شي مخفي د شيدا مینه (۲۳)

متل: چې څه کرې هغه به رېبې.

د چا به څه لره ماڼه له بله شي
چې نېکه بده پۀ عمل موندله شي
هغه چې وکړی هغه به وربېبې
له خپله لاسه هره کرله شي (۲۴)

چې اوربشې کرې کله غنم وشي
پټه نۀ ده څۀ کرې هغه اخلې (۲۵)

متل: غل د کوره پورې نۀ شي زغلولی.

څۀ ښه متل دی پښتنو کړی
چې غل شړه شي نۀ چې تر کوره (۲۶)

**متل:** د ګونګ پهٔ ژبه ګونګ پوهیږي.

یا

**متل:** د ګونګي پهٔ ژبه مور پوهیږي.

ملا خبرې پهٔ سپین پهٔ تور زده
د ګنګو ژبه د ګنګو مور زده(۲۷)

**متل:** یادوې غنم او خرڅوې وربشي.

د بې دردو یاري ما غنم ګڼله
چې مې ولیدله سر تر پایه جو وه(۲۸)

**متل:** زور د چمچکۍ نه لري. نیسي ښاماران.

چې دم یې نه زده د اوښکۍ
د اژدها نیسي لویه لکۍ

نادان دی پرېږده ورباندي مه مره
د نصیحت د صابون چکۍ(۲۹)

**متل:** خپله ژبه هم قلا ده هم بلا ده

غم الم به دې ونه رسي و زړهٔ ته
که د خپلې ژبې هر کله پاسبان یې(۳۰)

**متل:** دوست هغه دی چې پهٔ سخته کښې پهٔ کار شي.

یار هغه چې د تنګسې پهٔ وخت پهٔ کار شي
چې دعویٰ کا د یارۍ حال یې زده کړه

د راحت پهٔ وخت د یار تجربه نهٔ شي
چې محنت درسره واخلي یار دي دی(۳۲)

متل: د کم عقل دوست نه هوښیار دښمن ښه دی.

د سر غلیم دې که دانائي لري
بهتر تر دوسته چې کانائي لري(۳۳)

متل: هره ګوجره وائي چې زما شومبلې تروې دي.

هره ګوجره وائي چې زما شومبلې خوږې دي
هره ګوجره خپله شومبلې ستائي

هیڅوك د خپلو شنوبو بد نه وائي
صفت د هر چا له خپله دوغه وی(۳۴)

خپلې خپلې شلومبې ستائي
چې شلومبې پلوري ګوجرې(۳۵)

متل: د نن کار سبا ته مه پرېږده.

چې کار دنن ورځې پرېږدي سبا ته
هوښیار به نه وي دا خوی نادان لري.

متل: چې سره پاك وي نو اور له څه باك وي.

که پهٔ اور کښې د سرو زرو وښې پرېوزي
عیب نشته پهٔ دا کار کښې یې جلا ده(۳۷)

غم د اور له تاوه زر لري چې قلب وي
زما څه اندوه له اوره چې بې غش یم(۳۸)

**متل**: هر کمال، زوال لري.

چې کمال لري زوال ورلره تل وي
اوړ مکه کله پوره کله نیمګړې(۳۹)

**متل**: پیشو ته د وازدو امیل پۀ غاړه کړه او ورته وایه مه یې خوره.

سپینو وازدو لره ورغله پېشو
خوله بۀ ونیسي له وازدو نه پۀ څو(۴۰)

**متل**: بې غیرته، خر نۀ وهې خو کته.

دا متل د زمانې دی څه اوس نۀ دی
چې نامرد خر پۀ پالان وهي نۀ خر(۴۱)

**متل**: مرګ حق دی خو کفن کښې شك دی.

هیڅ شك پۀ دا کښې نشته چې پۀ مرګ به واړه ومره
خو شك پۀ دا کښې کېږي څوك بۀ مومي ګورستان(۴۲)

**متل**: تندرستي لوی نعمت دی یا روغ صورت اختر دی.

که لویې نعمت دی د روغ صورت دی
که لویې دولت دی د نیکو نیت دی

تندرستان دې شکر کاندي
تندرستي یو لوی نعمت دی(۴۳)

**متل**: مېږي ته چې خدای پۀ قهر شي نو وزرې ورله وکړي.

مېږی لا پۀ بلا یاد دی
چې ورپورې شي وزر(۴۴)

د مېږي چې وزر نۀ وي هونبره ښۀ وي
قباحت دی تجاويز له خپلې چارې(۴۵)

د مېږي غوندې خوشحاله
الوته کاندې خبيث (۴۶)

متل: چې بد ګرځې نو بد بۀ پرځې.

چې بد ګرځې بد بۀ پرزې
جهان ځاې د مکافات دی(۴۷)

متل: غاښ چې رنځور شي نو دارو يې انبور شي

فرزند که ښه شي د سترګو نور شي
د سترګو نور شي د زړه سرور شي

فرزند که بد شي غاښ د رنځور شي
غاښ چې رنځور شي نور د انبور شي(۴۸)

متل: چې چرته زړه ځي نو هلته پښې ځي

که پۀ زړه شوې زه به اوس د يار څخه ووم
چا وې دا چې پښې هورې درومې چې زړه ځي (۴۹)

متل: ګل بې خاره نه وي.

که هر څو يې لټوې پسې يې غواړې
پۀ دا باغ کښې به يو ګل نه وي بې خاره(۵۰)

تل جفا د ښائسته و سره مل وي
پۀ جهان کښې بۀ هيڅ ګل نه وي بې خاره(۵۱)

متل: نمر پهٔ ګوته نه پټیږي

نمر پهٔ ګوته پټاوه نهٔ شي خوشحاله
هیڅ منکر نهٔ شي د خپلي عاشقۍ (۵۲)

متل: يك سر و هزار سودا

ښهٔ يې دي وئيلي چې زړهٔ يو دی يار دې يو وي
ښهٔ ده دا خبره چې سر يو او سودا سل څه (۵۳)

متل: پدرمن سلطان بود

نامرد به ګرځي د پلار پهٔ نام پسې
ځوانمرد به ګرځي پهٔ خپل صمصام پسې (۵۴)

متل: شينده کی بود مانند ديده

هر ګز به اوربدلي د ليدلي مخي نه کړم
خو بې د يوسف اورم ستا جمال مي دی ليدلی (۵۵)

متل: برعکس نهند نام ززنگی کافور

حبشي که ځان نوم د کافور کښېږدي
سر تر پايه و هر چاوته مبين دی (۵۶)

شپهٔ يې وينځه بې بې نوره
تور زنګی نوم يې کافور (۵۷)

حبشي دي نوم پهٔ ځان د هلال کښېږدي
پهٔ تش نوم باندي به هيڅ نه شي هلال (۵۸)

**متل**: سالی که نیکوست از بهارش پیدا

بیا له ورایه پۀ خندا راغله نګاره
د ښه کال خوبي ښکاره وي تر بهاره (۵۹)

د خوشحال بابا د دغه شعرونو نه دا خبره راڅرګېږي ته کېږي چې هغه پۀ اکثرو ځایونو کښې د پښتو متلونه کټ مټ استعمال کړي دي. ولې پۀ ځینو شعرونو کښې خوشحال بابا یا خو متلونو کښې لفظي بدلون راویستې دی او یا یې د متلونو مفاهیم پۀ خپل کلام کښې را ځای کړي دي. پۀ هر طور دا بره شعرونه د ستر خوشحال د کلام نه د " مشت از خروار" پۀ توګه لوستونکو ته وړاندي شو. پۀ دغه هیله چې د خوشحال بابا د شاعرئ دا اړخ لوستونکې څه نه څه وځېروي او سترګور یې د پلټنې او څېړنې پۀ حواله نور راوسپړي. چې د خوشحال بابا د کلام نافې پۀ معنوي لحاظ د ښکلا خوشبو ګانې نورې رابرسېره کړي. او د پښتنو ذهنونه پرې معطر او عطر ژن شي.

## حوالې


1. انسائیکلو پیډیا امریکانا، جلد ۱۲، م۷۱۴
2. خان، محمد موسیٰ، د متلونو قصې،یونیورسټي بک ایجنسي، م ۸
3. طائر، محمد نواز او تامس سي ایډورډ ،روهي متلونه(پښتو متلونه)،م x
4. داود ، پروفیسر داور خان، پښتو ادب کښې متل،یونیورسټي بک ایجنسي،م ۲۵-۲۴،
5. خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال، اداره اشاعت سرحد، س ن، م ۵۰۹
6. همدغه، م ۹۱۳
7. همدغه، م ۱۷۱
8. همدغه، م ۱۵۳
9. همدغه، م ۳۱۱
10. همدغه،م ۱۱۷
11. همدغه،م ۷۱۳
12. همدغه، م ۱۴
13. همدغه،
14. همدغه، م ۲۳
15. همدغه، م ۱۲۴
16. همدغه، م۱۱۴
17. همدغه، م ۲۱۲

18. همدغه، م ۵۴۷
19. همدغه، م ۳۸۷
20. همدغه، م ۱۰۵
21. همدغه، م ۳۶۵
22. همدغه، م ۷۳۳
23. همدغه، م ۳۰۶
24. همدغه، م ۷۶۷
25. همدغه، م ۳۷۷
26. همدغه، م ۷۰۵
27. همدغه، م ۷۰۷
28. همدغه، م ۲۹۳
29. همدغه، م ۷۴۷
30. همدغه، م ۳۴۷
31. همدغه، م ۳۱۹
32. همدغه، م ۴۰۰
33. همدغه، م ۷۷۱
34. همدغه، م ۷۹۰
35. همدغه، م ۸۷
36. همدغه، م ۷۹۳
37. همدغه، م ۲۷۹
38. همدغه، م ۱۸۴
39. همدغه، م ۹۱۰
40. همدغه، م ۲۴۴
41. همدغه، م ۵۲۶

42. همدغه، م ۲۳۲
43. همدغه، م ۹۱۵
44. همدغه، م ۹۲۳
45. همدغه، م ۷۷
46. همدغه، م ۵۰۲
47. همدغه، م ۵۰۲
48. همدغه، م ۷۸۹
49. همدغه، م ۲۴۳
50. خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۸، م ۵۳
51. همدغه، م ۹۳۲
52. همدغه، م ۳۶۸
53. همدغه،م ۲۷۶
54. همدغه، م ۵۲۸
55. همدغه، م ۲۲۳
56. همدغه،م ۲۱۷
57. همدغه،م ۴۳
58. همدغه،م ۵۷۰
59. همدغه، م ۱۳۳